د حضرت خدیجۃُ الکُبریٰ رَضِیَ اللہُ عَنْھَا

# فیضان

**7 March-2025**



هفته وار د سنّتونو ډکه اجتماع کښې کېدونکے

د سنّتونو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

پۀ 7 مارچ، کال 2025ء (بمطابق: 6 رَمَضَانُ الْمُبَارَک شریف، کال 1446ھ) د پاکستان پۀ هفته وارو اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# د حضرت خدیجةُ الکُبریٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا فیضان

پۀ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... 4 افضلې جنَّتي زنانه
- ...د یتیم او د مسکین د پالنې فضائل
- ... د مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ عاجزي او اِنکساري
- ... د صِله رحمی 10 فائدې

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة (اسلامِک ریسرچ سنټر)

(شعبه بیاناتِ دعوتِ اسلامي)

***For Feedback***:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْم ط بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ الله

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

د اربعین عطّار، قسط: 2، په صفحه: 32، حدیثِ پاک نمبر: 32 دے:

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:

مَنْ صَلّٰی صَلَاةَ الْعَصْرِ مِنْ یَّوْمِ الْجُمُعَةِ، فَقَالَ قَبْلَ اَنْ یَّقُوْمَ مِنْ مَقَامِهٖ: اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدِنِ النَّبِیِّ الْاُمِّیِّ، وَعَلٰی اٰلِهٖ وَ صَحْبِهٖ وَ سَلِّمْ تَسْلِیْماً. ثَمَانِیْنَ مَرَّةً غُفِرَتْ لَهٗ ذُنُوْبُ ثَمَانِیْنَ عَامًا، وَکُتِبَتْ لَهٗ عِبَادَةُ ثَمَانِیْنَ سَنَةً

**ترجمه:** چا چي د جُمُعي په ورځ د مازدیګر نمونځ ادا کړو، بیا یـې خپل ځائ نه پاځیدلو نه مخکښي80 ځله دا درود شریف ولوستو: اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدِنِ النَّبِیِّ الْاُمِّیِّ، وَعَلٰی اٰلِهٖ وَ صَحْبِهٖ وَ سَلِّمْ تَسْلِیْماً، نو د هغهٔ د 80 کالو ګناهونه بخښلے کیږي او د هغهٔ د پاره د 80 کالو عبادت لیکلے کیږي. (1)

1 ...افضل الصلوات للنبهانی، صفحه:25۔

ایمان والو! سن لو فضیلت درود کی | قربت حضور کی ہے محبت درود کی
کاسہ عمل کا خالی تھاایسا کرم ہوا | جنت میں لے گئی مجھے عادت درود کی

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

# د بیان اوریدلو نیتونه

پۀ **حدیثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار پۀ نیتونو دے. (1)

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! پۀ ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي. راځئ چې د بیان اوریدو نه مخکښې څۀ ښۀ ښۀ نِیَّتونه وکړو: مَثَلاً ❀ د **اللّٰه پاک** د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❀ پۀ اَدب به کښینم ❀ ښۀ پۀ توجُّه به بیان اورم ❀ څۀ چې واورم، د هغې به د یادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! د رَمَضَانُ الْمُبَارَک **شریف** بختور، د نُور نۀ ډک، د سپړلي وختونه دي، د رحمتونو باران دے، هر سعت یې رحمت دے، **خوش قِسمته دي هٰغه خلق** ❀ کوم چې د ظاهري او باطني ادابو سره روژې نیسي او ❀ د زړۀ پۀ خوشحالۍ سره 20 رکعته تراویح کوي او ❀ د پیشمني او د روژه ماتي برکتونه حاصلوي او د رَمَضَانُ الْمُبَارَک **شریف** سپړلي حاصلوي او **ډیر محرومه او بد قسمته دي هٰغه خلق** ❀ کوم چې پۀ دې مبارکو وختونو کښې هم د نیکو کولو نه محرومه دي ❀ روژې نۀ نیسي ❀ تراویح نۀ کوي یا کوي یې هم خو پوره یې نۀ کوي ❀ د بخښنې او د مغفرت او د

---

1... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1 ۔

رحمت پۀ دې عظيم الشانه مياشت کښې هم د **اللّٰه پاک** او د رسولِ کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د رضا والا کارونو نه لرې دي.

د **اللّٰه پاک** اخري نبي، مکي مَدَني صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: زما اُمَّت به ذليله او رسوا کيږي نۀ تر څو پورې چې هغوئي د روژې د مياشتې حق ادا کوي. عرض وکړے شو: يا رسولَ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! د رمضان حق ضائع کول څۀ دي؟ اوئې فرمائيل: پۀ دې مياشت کښې حرام کول. بيا يې وفرمائيل: چا چې پۀ دې مياشت کښې زِنا وکړه يا يې شراب وڅښل نو تر بل رمضان پورې **اللّٰه پاک** او چې څومره اسماني فرښتے دي ټول به پۀ هغۀ باندې لعنت وائي، که دا ګس د راتلونکې روژې مياشتې موندلو نه مخکښې مړ شو نو د دۀ سره به داسې هيڅ نيکي نۀ وي کومه چې به دا د دوزخ د وور نه بچ کړي. بس تاسو د روژې د مياشتې پۀ معامله کښې ويريږئ ځکه چې څنګه پۀ دې مياشت کښې د نورو مياشتو پۀ مقابله کښې نيکۍ زياتولے شي، دغه شان د ګناهونو معامله هم ده. (1)

**اللّٰه پاک** دې مونږ ټولو ته د روژې د مياشتې ❁ پۀ ښه انداز کښې ❁ د **اللّٰه پاک** د رضا د کارونو کولو او ❁ هر سعت د قدر کولو او ❁ پۀ نيکو کښې ❁ پۀ عبادتونو کښې ❁ پۀ ذِکر و فِکر کښې ❁ د قبر پۀ يادولو ❁ د مدينے منورې يادونه پۀ زړۀ کښې د ډيره کولو ❁ د ښو اخلاقو نه د کار اخستو سره ❁ د مور پلار پۀ ادب کولو ❁ د دوستانو خپلوانو سره پۀ نيکۍ کولو ❁ د ګاؤنډيانو پۀ حقونو ادا کولو ❁ د غريبانانو پۀ مدد کولو د تيرولو ❁ او د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د فيضان نه د جولو ډکولو توفيق راعطا کړي.

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

ګناہوں کی نحوست بڑھ رہی ہے دم بدم مولیٰ! | میں توبہ پر نہیں رہ پا رہا ثابِت قدم مولیٰ!

---

1…معجم صغير، جلد:9، صفحه:60، حديث:1488۔

میں رحمت، مغفرت، دوزخ سے آزادی کا سائل ہوں | مہِ رمضان کے صدقے میں فرمادے کرم مولیٰ! [1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

# د حضرت خديجةُ الـکُبریٰ رَضِیَ اللہُ عَنۡہا مختصر تعارف

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د رَمَضَانُ المُبَارَک شریف پهٔ 10 تاریخ د مسلمانانو د خوږې مور جانې، د حَسَنینِ کریمَین او د ټولو ساداتِ کرامو رَضِیَ اللہُ عَنۡہُم د نیا ابیٔ حضرت خدیـجةُ الـکُبریٰ رَضِیَ اللہُ عَنۡہا ورځ نمانځلے شي. هغهٔ زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ورومبۍ کور وداني محترمه ده.

دا خبره هم هر یو مسلمان له یاد ساتل پکار ده چې زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پاکو بیبیانو ته اُمَّھَاتُ الْمُؤمِنِین یعنې د مسلمانانو مئیندې وئیلے شي. اللّٰه پاک پهٔ 21 سیپاره، د سورهٔ احزاب پهٔ آیت: 6 کښې فرمائي:

اَلنَّبِیُّ اَوْلٰى بِالْمُؤْمِنِیْنَ مِنْ اَنْفُسِهِمْ وَ اَزْوَاجُهٗۤ اُمَّهٰتُهُمْؕ

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: دا نبي د مسلمانانو د ځانونو نه زیات د هغوئي مالک دے او د هغهٔ بیبیانې د هغوئي مئیندې [موریانې] دي.

معلومه شوه چې زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زمونږه د ځانونو زمونږ نه زیات مالِک دے او د هغوئي پاکې بیبیانې زمونږه د ټولو ایمان والؤ مئیندې دي.

اہلِ اِسلام کی مادرانِ شفیق | بانُوانِ طہارت پہ لاکھوں سلام [2]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د اللّٰه پاک د اخري نبي، مکي مَدَني صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

---

1...وسائلِ بخشش، صفحه:98۔

2...حدائقِ بخشش، صفحه:310۔

عمر مبارک 25 کاله وو چې کله هغوئي حضرت خدیـجةُ الـکُبریٰ رَضِیَ اللہُ عَنْہا پهٔ خپله نـکاح کښې قبوله کړه. د هغې کُنیت: اُمِّ قَاسِم دے. د هغې د ټولو نه مشهور لقب: **الکبریٰ** دے. هغهٔ ډیره پاکبازه، ډیره د همت والا، د اوچتې حوصلې والا، عزت داره، اعلیٰ نسب لرونکې او ډیره عقلمنده زنانه وه، د هغې د اعلیٰ صفتونو او کمالونو خومره ښکلے شان دے...!! چې د جاهلیت پهٔ زمانه کښې به هم هغهٔ د طَاهِرَه (یعنې پاکه زنانه) او سیدةُ قریش (یعنې د قریشو سرداره زنانه) پهٔ لقب سره بللے شوه. د حضرت خدیـجةُ الـکُبریٰ رَضِیَ اللہُ عَنْہا یو ښکلے لقب: صِدِّیقه هم دے. **پهٔ حدیث شریف کښې دي، د الله پاک** اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: هٰذِهٖ صِدِّيْقَةُ اُمَّتِیْ **یعنې دا زما د اُمَّت صِدِّیقه ده.** (1)

زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ټول 7 بچي دي: څلور شهزادګۍ (حضرت زینب، حضرت رُقیه، حضرت اُمِّ کلثوم او خاتونِ جنّت حضرت بي بي فاطِـمةُ الـزَهراء رَضِیَ اللہُ عَنْہُنّ) او درې شهزادګان (حضرت قاسِم، حضرت عبد الله او حضرت ابراهیم رَضِیَ اللہُ عَنْہُم). پهٔ هغوئي کښې حضرت ابراهیم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د ماریه قِبطیه رَضِیَ اللہُ عَنْہا شهزاده دے، باقي ټول اولاد یـې د حضرت خدیـجةُ الـکُبریٰ رَضِیَ اللہُ عَنْہا نه وو.

د نبوت پهٔ لسم کال، د رَمَضَانُ الْمُبَارَک **شریف** پهٔ لسم تاریخ حضرت خدیـجةُ الـکُبریٰ رَضِیَ اللہُ عَنْہا د دې دُنیا نه رحلت وفرمائیلو، د رحلت فرمائیلو پهٔ وخت د هغې عمر مبارک 65 کاله وو. (2) د هغې مزار مبارک د مکې مکرمې پهٔ مشهوره هدیره جنَّت الـمُعلیٰ کښې دے.

وہ اُمُّ الْمُسْلِمِیں جو مادرِ گیتِی کی عزت ہے | وہ اُمُّ الْمُسْلِمِیں قدموں کے نیچے جس کے جنّت ہے

---

1...تاریخِ مدینه دمشق، تاریخ دمشق، حرف المیم، 9427 مریم بنت عمران، جلد:70، صفحه:118۔

2...امتاع الاسماع، فصل فی ذکر ازواج رسول، ام المؤمنین خدیجة بنت خویلد، جلد:6 صفحه:28۔

| | |
|---|---|
| خدیجہ طاہرہ یعنی نبی کی باوفا بی بی | شریکِ راحت و اندوہ پابندِ رضا بی بی |
| دیارِ جاودانی کی طرف راہی ہوئیں وہ بھی | گئیں دنیا سے آخر سوئے فردوسِ بریں وہ بھی(1) |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## څلور افضلې جنّتي زنانه

حضرت عبد الله بن عبّاس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہما فرمائي: یو ځل رسولِ کائنات، شهنشاهِ موجودات صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په زمکه باندې څلور کرښې راښکلې او اوئې فرمائیل: تاسو ته پته ده چې دا څهٔ دي؟ صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم عرض وکړو: اَللّٰہُ وَرَسُوْلُہٗ اَعْلَم یعنې د **الله پاک** او د هغهٔ رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته بهتره معلومه ده. اوئې فرمائیل: په جنّتي زنانؤ کښې د ټولو نه زیاتې فضیلت والا دا زنانه دي: **(1)**: خدیجه بنتِ خُوَیْلِد یعنې حضرت خدیـجةُ الـکُبریٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا **(2)**: فاطِمه بنتِ مُحَمَّد **(3)**: د فرعون کور وداني آسیه بنتِ مُزَاحِم **(4)**: او د حضرت عیسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام مور بي بي حضرت مَرْیَم بنتِ عِمْرَان (رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہن).[2]

## د حضرت خدیجه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا یو څو خصوصیات

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! **الله** پاک حضرت خدیجةُ الکبریٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا ته ډیر فضائل او مناقِب او خصوصیات ورکړي وو، د هغې رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا د یو څو خصوصیاتو اوریدلو سعادت حاصلوو. چنانچه **(1)**: هغه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا د ټولو نه وړومبۍ د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په نکاح کښې راغله **(2)**: رسولِ هاشمی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَآلِہٖ وَسَلَّم د هغې رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا په ژوند مبارک کښې بل وادهٔ نهٔ وو کړے **(3)**: د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَآلِہٖ وَسَلَّم ټول اولاد سِوا د حضرت ابراهیم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہ نه، د هغې رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا نه پیدا شوے وو **(4)**: هُم هغه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا د ټولو سیدانو

---

1... شاہنامہ اسلام، جلد:1، صفحہ:135۔

2... مسند احمد، مسند بنی ہاشم، مسند عبد اللہ بن العباس...الخ، جلد:2 صفحہ:241، حدیث:2720۔

نیا جانه مبارکه ده (5): په زنانؤ کښې د ټولو نه وړومبے هغې رَضِیَ اللہُ عنہا ایمان راوړو (6): د نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَ آلِہٖ وَسَلَّم نه پس په اسلام کښې د ټولو نه وړومبے هغې رَضِیَ اللہُ عَنْہا نمونځ ادا کړو[1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## یو ایمان تازه کوونکے حدیثِ پاک

**بُخاري شریف** کوم چې د حدیثِ پاک د ټولو نه معتبر کتاب دے، په دې کښې یو ایمان تازه کوونکے حدیثِ پاک دے، زۀ د څۀ وضاحت او تشریح سره دا حدیثِ پاک بیانووم، بیا د دې حدیث شریف نه د میلاؤیدونکي سبق د اوریدو سعادت حاصلوو.

زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عمر 40 کاله شوے وو، د ربیع الاوّل د میاشت نه د وحي نخښې ظاهریدل شروع شوې، هغه داسې چې نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته رښتوني خوبونه ښودلے شول، رسول اللہ صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې به کوم خوبونه لیدل، هو بهٔوو هم هُغه څۀ به د ورځې د نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ مخکښې کیدل،څه کمې یا زیاتې 6 میاشتې هم پۀ دې انداز تیرې شوې، بیا د رسول اللہ صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ زړۀ کښې د تنهایۍ محبت واچولے شو. د **رَمَضَانُ الْمُبَارَک** **شریف** مقدسه میاشت وه، نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خوراک څښاک څۀ سامان واخستو او **غارِ حِرا** ته یې تشریف یوړلو. څه ورځې پۀ **غارِ حِرا** کښې د **اللہ پاک** پۀ یاد او عبادت کښې مصروف وو، بیا یې کور ته تشریف راوړلو، د مسلمانانو خوږې مور جانې حضرت خدیـجةُ الـکُبریٰ رَضِیَ اللہُ عَنْہا ورله بیا د خوراک څښاک څۀ سامان تیار کړو، نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بیا **غارِ حِرا** ته تشریف یوړلو. ډیرې ورځې هم دغه سلسله روانه وه. آخر د **رَمَضَانُ الْمُبَارَک** **شریف** 17 ولّسمه شپه راغله، خوږ محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ **غارِ حِرا**

[1]...فیضانِ خدیجۃ الکبریٰ، صفحہ: 59-62 ملتقطاً۔

كنبې تشريف فرما وو چې د **اللّٰه پاک** په حُكم باندې حضرت جبريلِ عَلَیْہِ السَّلَام ورومبی وحي راوړله او حاضر شو. هٰغه وخت د 30 سيپارې، د **سورۀ علق** ورومبي يو څو آيتونه نازل شول، ارشاد وشو:

اِقۡرَاۡ بِاسۡمِ رَبِّكَ الَّذِیۡ خَلَقَ ۚ ﴿۱﴾ خَلَقَ الۡاِنۡسَانَ مِنۡ عَلَقٍ ۚ ﴿۲﴾ اِقۡرَاۡ وَ رَبُّكَ الۡاَكۡرَمُ ۙ ﴿۳﴾ الَّذِیۡ عَلَّمَ بِالۡقَلَمِ ۙ ﴿۴﴾ عَلَّمَ الۡاِنۡسَانَ مَا لَمۡ يَعۡلَمۡ ؕ ﴿۵﴾ (پاره:30، سورۀ علق:1،5)

ترجمهٔ كنزُالعِرفان: د خپل **رَبّ** په نوم ولوله، چا چې پيدا كړو. انسان يې د تينګې وينې نه جوړ كړو. ولوَله او هُم ستا **رب** د ټولو نه كريم دے. چا چې په قلم سره ليكل ورزده كړل. انسان ته يې هٰغه زده كړل څۀ چې هغۀ ته نۀ وو معلوم.

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ژوند مبارک چې دا كوم د بركت والا سعت وو، كله چې ورومبۍ وحي نازله شوه، دا ډير سخت وخت وو، قرآنِ كريم هٰغه عظيم كلام دے چې **اللّٰه پاک** فرمائي:

لَوۡ اَنۡزَلۡنَا هٰذَا الۡقُرۡاٰنَ عَلٰى جَبَلٍ لَّرَاَيۡتَهٗ خَاشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنۡ خَشۡيَةِ اللّٰهِ ؕ (پاره:28، سورۀ حشر:21)

ترجمهٔ كنزُالعِرفان: كه مونږ دا قرآن په كوم غر نازل كړے وے نو ضرور به تاسو هغه ټيټ شوے، د **اللّٰه** د ويرې نه ذره ذره شوے ليدلے.

يعنې كه قرآنِ كريم په غرونو باندې هم نازل كړے شوے وے نو غرونه به د ويرې او رُعب له وجهې ذرې ذرې شوي وو. د دې نه اندازه ولګوئ چې د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مبارک زړۀ په كوم باندې چې دا كلام نازل شو، هٰغه وخت به په زړۀ مبارک باندې د فيضِ رَبَّاني څنګه اثر شوے وي خو قربان شم! دا زما د

خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پاک زړۀ دے چې که غرونه وو نو ذرې ذرې شوي به وو خو د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زړۀ دا تجلي او فیض قبول کړو اوچې ثنګه وو هم ګُغسي پاتې شو. اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ لیکلي دي:

دِل سمجھ سے وراء مگر یُوں کہوں | غنچۂ رازِ وحدَت پہ لاکھوں سلام

**وضاحت**: اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د محبوبِ ذِیشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هر یو اندام، هرې یوې ادا ته د سلامونو نذرانې پیش کړې، چې کله یې د پاک زړۀ د پاره عرض وکړو نو اوئې وئیل: د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زړۀ ګغه زړۀ دے پۀ کوم باندې چې مخلوق هډو پوهیدے ګُم نشي، آؤ! دا وئیلے شم چې دا پاک زړۀ د **وَحدَت د راز** غنچه او باغ دے، پۀ دې باندې دې هم پۀ لکونو سلامونه وي.

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! چې کله وړومبۍ وحي نازله شوه نو د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پاک زړۀ هسې خو پۀ ځائے وو، البته! د دې فیضِ رَبّاني یو رُعب پرې راغلےوو، نو نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کور ته تشریف راوړلو، خوږې کور وداني محترمې سَیِّده خدیـجةُ الـکُبریٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡھا ته یې وفرمائیل: پۀ ما باندې څادر راوغوړوه. حضرت خدیـجةُ الـکُبریٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡھا پرې څادر وغوړولو. لږ سعت پس چې کله د زړۀ مبارک نه د رُعب حالت ختم شو نو هغوئي ټوله واقعه حضرت خدیـجةُ الـکُبریٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡھا ته بیان کړله او اوئې فرمائیل: زما سره د خپل ځان ویره ده.

پۀ دې موقع باندې چې حضرت خدیـجةُ الـکُبریٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡھا کوم ښکلے کردار ادا کړو، یقین وکړئ چې ډیر اعلیٰ او بے مثاله کردار دے. هغې د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زړۀ له ډاډګیرنه ورکړه او عرض یې وکړو: کَلَّا وَاللّٰہِ مَا یُخۡزِیۡكَ اللّٰہُ اَبَدًا یعني داسې به هیڅکله هم نۀ کیږي، پۀ **اللّٰہ پاک** مې دې قسم وي! **اللّٰہ پاک** به چرې هم تاسو نۀ رُسوا کوي ځکه چې ❁ اِنَّكَ لَتَصِلُ الرَّحِمَ بے شکه تاسو صِله رحمي کوئ ❁ وَتَحۡمِلُ الۡكَلَّ د کمزورو بوج اوچتوئ

✿ وَتَكْسِبُ الْمَعْدُوْمَ د محتاجو د پاره ګټل کوئ ✿ وَتَقْرِى الضَّيْفَ د میلمه میلمستیا کوئ
✿ وَ تُعِيْنُ عَلٰى نَوَائِبِ الْحَقِّ یعنې پۀ حق لاره کښې مشکلات برداشت کوئ.

| | |
|---|---|
| وہ نبیوں میں رحمت لقب پانے والا | مرادیں غریبوں کی بَر لانے والا |
| مصیبت میں غیروں کے کام آنے والا | وہ اپنے پرائے کا غم کھانے والا |
| فقیروں کا ملجا، ضعیفوں کا ماوی | یتیموں کا والی، غُلاموں کا مولیٰ |
| اُتَر کر حِرا سے سُوئے قوم آیا | اور اِک نسخۂ کیمیا ساتھ لایا |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا یو ښکلې روایت د څۀ مختصر وضاحت او تشریح سره ما ستاسو پۀ خدمت کښې وړاندې کړو، پۀ دې روایت کښې زمونږ د پاره ډیر سبقونه موجود دي.

## (1): اِسلام زنانؤ له څۀ ورکړل

د ټولو نه وړومبې خو پۀ دې نکته باندې غور وکړئ! چې دا بالکل د اِسلام وړومبۍ مرحله ده او پۀ دې مرحله کښې هم مونږه ته یوه زنانه د خپل مثالي کردار پۀ ادا کولو پۀ نظر راځي.

لږ پۀ غور سره سوچ وکړئ چې هُغه عظيمُ الشانه هستي ✿ د کوم نُور چې الله پاک د ټولو مخلوقاتو نه مخکښې پیدا کړو ✿ لا د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام تخلیق هم نۀ وو شوے چې د دې نه مخکښې د هغوئي پۀ سر مبارک باندې د نبوت تاج کیښودے شو ✿ د هغوئي د پاک نُور برکت وو چې پۀ فرښتو باندې حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام ته سجده وکړے شوه ✿ د هغوئي د پاک نُور برکت وو چې پۀ حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام باندې وور ګلزار کړے شو ✿ د هغوئي د پاک نُور برکت وو چې د حضرت اِسماعیل عَلَيْهِ السَّلَام پۀ فِدیه کښې د جنَّت

نه ګڼه راولیږلے شو ❁ دا هُغه محبوبه هستي ده چې د دې زړۀ خِیرن شي، **الله پاک** ته هیڅکله هم دا منظوره نۀ ده ❁ چې د دوئي زړۀ مبارک لږ شان غمژن شي نو **الله پاک** د سِدرَۃُ الـمُنتَهیٰ نه جبریلِ امین عَلَیۡهِ السَّلَام راليږي او قرآني آیتونه نازلوي او زړۀ مبارک له يې تسلي ورکوي. د چا چې دومره اوچت شان وي، لږ سوچ خو وکړئ چې د وړومبۍ وحي پۀ موقع باندې د هغوئي د زړۀ د ډاډګیرنې د خدمت کولو د پاره د يوې زنانه انتخاب ولې وکړے شو...؟

پۀ دې کښې سبق دے چې زنانه د کومې چې پۀ معاشره کښې هم څه عزت نۀ وو، کومې ته چې به د ذِلت پۀ نظر کتلے شو، لونړه به چې پیدا شوې نو ژوندۍ به ښخولے شوې ❁ د لور پۀ پیدا کیدو به تندي راچولے کیدل ❁ د زنانه که به خاوند وفات شو نو هغۀ به هم د خاوند سره ژوندۍ ښخولے کیدله ❁ زنانه ته به د سپیرې، ناپاکې او پته نۀ لګي چې څنګه څنګه لقبونه ورکړے کیدل. اِسلام هُغه پاک دِین دے چې د دۀ لا بالکل وړومبۍ مرحله ده، پۀ دې مرحله کښې هم د يوې زنانه خدمتونه شامل کړے شول او د هغې عزتونه يې نور هم زيات کړل .

سُبۡحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! غور وکړئ چې کوم اِسلام بالکل پۀ خپله وړومبۍ مرحله کښې يوې زنانه له دومره عزت ورکوي، د هُغه اِسلام نُور چې کله پۀ ټوله دنيا کښې خور شوے وي نو بيا به هُغې زنانه ته کوم کوم عزتونه نۀ وي ورکړے شوي.

نن سبا چې دا کوم خلق ګډې وډې خبرې کوي، د ښځو د ازادۍ پۀ نوم باندې مَعَاذَالله! د بے حیایۍ والا جلوسونه ويستلے کیږي، ډیرې سپکې او ګنده نعرې وهلے کیږي، دا صرف يوه پروپیګنډه ده، دا تشې چغې سورې دي، چرته د اِسلام نه د مخکښې زمانې او د اِسلام نه د وروستو زمانې پۀ خپل مینځ کښې موازنه وکړئ چې معلومه شي درته چې اِسلام زنانه څنګه د ښکته نه راويستلې ده او څومره لوړ مقام ته يــې رسولې ده . **الله پاک**

پهٔ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ لَهُنَّ مِثْلُ الَّذِیْ عَلَیْهِنَّ بِالْمَعْرُوْفِ ۪ (پارہ:2، سورۂ بقرہ:228) | ترجمہٗ کنزُالعِرفان: او د ښځو د پاره هُم پهٔ سړو باندې د شريعت مطابق هُم داسې حق دے لکه څنګه چې ( د هغوئي) پهٔ ښځو دے. |

يعنې چې څنګه پهٔ زنانۇ باندې د خاؤندانو حقونه ادا کول واجب دي، هم داسې پهٔ خاؤندانو باندې د زنانۇ حقونه ادا کول هم واجب دي. (صِراط الـجنان)

اَللہُ اَکۡبَرۡ! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د قرآن د آيت دا جمله **د زنانۇ د حقونو** هغه عظيم ترين دستاويز دے، کوم چې به د قرآنِ پاک نه علاوه پهٔ ټوله دُنيا کښې پهٔ يو ځائے کښې هم پهٔ نظر نهٔ رانشي. دا صرف د قرآنِ کريم خاصيت دے چې دهٔ د زنانۇ حقونه يې داسې پهٔ تفصيل سره بيان کړي دي.

غرض: مقصد دا دے چې اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہ! اِسلام زنانۇ ته ډير څهٔ عطا کړي دي، ډير زيات بلکې چې زنانۇ ته کوم عزت ورکړے شوے دے، ټول پهٔ ټوله د اِسلام پهٔ وجه نصيب شوے دے. پهٔ قرآنِ کريم کښې د زنانۇ ذِکر پهٔ کوم انداز کښې دے، د زنانۇ د حقونو پهٔ باره کښې اِسلام څهٔ څهٔ تعليمات ورکړي دي، که پهٔ دې باره کښې تفصيلي معلومات حاصلول غواړئ نو د مکـتبة الـمدينه کتاب **قرآن اور عورت** ولولئ! اِنۡ شَآءَ اللہُ الۡکَرِیۡم! درته به معلومه شي چې اِسلام زنانۇ ته څهٔ عطا کړي دي. **اللّٰه پاک** دې مونږ ته د صحيح نظرياتو د اختيارولو او پهٔ ښه طريقه پهٔ دِينِ اِسلام باندې د پوهيدو توفيق راعطا کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم .

## (2): د حضرت خديـجةُ الـکُبریٰ رَضِیَ اللہُ عَنۡھا عِلمي شان

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږه روايت واوريدو چې خوږ محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د غارِ حِرا نه تشريف راوړلو، زړهٔ مبارک يې د رُعب پهٔ حالت کښې وو، اوئې فرمائيل:

زما سره د خپل ځان ویره ده. په دې باندې حضرت خدیـجةُ الـکُبریٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا د زړه ډاډه کولو د پاره عرض وکړو: كَلَّا وَاللّٰهِ مَا يُخْزِيْكَ اللّٰهُ اَبَدًا یعنې داسې به هیڅکله هم نۀ کیږي، په **اللّٰه پاک** مې دې قسم وي! **اللّٰه پاک** به چرې هم تاسو نۀ رُسوا کوي ځکه چې ❁ بے شکه تاسو صِله رحمي کوئ ❁ د کمزورو بوج اوچتوئ ❁ د محتاجو د پاره ګټل کوئ ❁ میلمستیا کوئ ❁ او په حق لاره کښې مشکلات برداشت کوئ. (1)

د حضرت خدیـجةُ الـکُبریٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا د دې ارشاد نه معلومه شوه چې هغۀ ډیره د عِلم والا، د **اللّٰه پاک** پیژندګلو لرونکې عظیمه زنانه وه. (2) هغې ته معلومه وه چې د ښو اخلاقو، پاکو اوصافو او کمالونو انجام همیشه ښه وي، **اللّٰه پاک** د ښو اوصافو والا هیڅکله هم نۀ رسوا کوي.

سُبۡحٰنَ اللّٰه! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا لا د اِسلام بالکل وړومبۍ مرحله ده، په دې مرحله کښې حضرت خدیـجةُ الـکُبریٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا ته د یتیمانانو د ملاتړ کولو فضیلت هم معلوم دے، د نورو په غم کښې د شریـکیدو اهمیت ورته هم معلوم دے او د **اللّٰه پاک** دومره پیژندګلو هم لري چې **اللّٰه پاک** کوم یو بنده له سزا ورکوي او کوم ته اوچت والے او عروج عطا کوي. سُبۡحٰنَ اللّٰه! چې د وړومبۍ وحي نازلیدو په وخت د هغې د عِلم دا شان دے نو سوچ وکړئ چې د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه د ډیرو قرآني آیتونو زده کولو نه پس به هٔغه عِلم څومره زیات شوے وي...!!

سِیَّمَا پہلی ماں، کَہفِ اَمنُ و اَماں | حق گزارِ رفاقت پہ لاکھوں سلام

**وضاحت:** اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د **اللّٰه پاک** د خوږ حبیب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پاکو بیبیانو ته درود او سلام پیش کوي او عرض کوي: خاص طور د مؤمِنانو په

---

1... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:66، حدیث:3۔

2... عمدة القاری، کتاب بدء الوحی، جلد:1، صفحہ:108، زیرِ حدیث:3۔

وروميې مور جانه حضرت خديـجةُ الـكُبرىٰ رَضِیَ اللہُ عَنْہا كومه چې د امن و امان كور دے، كومې چې د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ملګرتيا پوره حق ادا كړو پۀ هغې باندې دې پۀ لكونو سلامونه وي.

## (3): د خوږ مصطفٰی ﷺ د غم ملګرې

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! حضور نبي كريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په داسې نازک صورتحال كښې د خپلو غمونو او پريشانو لرې كولو د پاره د حضرت خديـجةُ الـكُبرىٰ رَضِیَ اللہُ عَنْہا انتخاب وفرمائيلو، چې خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به په څه وجه غمژن شولو نو هغې رَضِیَ اللہُ عَنْہا به دلاسه وركوله. چنانچه حضرت علامه محمد بن اسحاق مدنی رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي چې سيّدِ عالَم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَآلِہٖ وَسَلَّم به چې كله هُم د كُفّارو له طرفه په څه ناخوښه خبره غمژن شولو او بيا به يـې د حضرت خديـجةُ الـكُبرىٰ رَضِیَ اللہُ عَنْہا خوا ته تشريف راوړلو نو د هغې رَضِیَ اللہُ عَنْہا په ذريعه به **اللّٰه** پاک د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د غم او پريشانئ كيفيت لرې كړو. (1)

## (4) د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ښكلي اخلاق

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! حضرت خديـجةُ الـكُبرىٰ رَضِیَ اللہُ عَنْہا پۀ دې موقع باندې د خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د 5 خوږو ښو اخلاقو ذِكر وكړو. سُبْحٰنَ الله! څومره خوارۀ او ښه اخلاق دي: **(1)**: نبي كريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم صِله رحمي كوونكے دے **(2)**: د كمزورو بوج اوچتوونكے دے **(3)**: د محتاجو د پاره ګټونكے **(4)**: **د ميلمه**ميلمستيا كوونكے **(5)**: او پۀ حق لاره كښې مشكلات برداشت كوونكے دے.

---

1...السیرۃالنبویۃلابن اسحاق، تحدید لیلۃالقدر، جلد:1، صفحہ:176۔

## خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د یتیم مدد وکړو

پهٔ روایتونو کښې دي: پهٔ مکه مکرمه کښې یو یتیم ماشوم وو، د دې اُمَّت فرعون یعنې د مکې مکرمې ډیر لوئي غیر مسلمه اَبو جَهل د هٔغه یتیم د پالنې ذمه واري پهٔ خپل سر واخسته او هٔغه ټول مال کوم چې هٔغه ماشوم ته پهٔ وراثت کښې میلاؤ شوے وو هغه یـې هم پهٔ خپله قبضه کښې واخستو.

بیا خو پـکار دا وه چې ابو جهل د دغه یتیم ماشوم ښه خیال ساتلو خو دا بد بخته غیر مسلمه وو، د هغهٔ زړهٔ د حرص او هوس نه ډک وو، هغهٔ د یتیم د پالنې کولو پهٔ ځائے اُلټا د هغهٔ مال قبضه کړو. یوه ورځ هٔغه یتیم ماشوم د هغهٔ خوا له راغلو او د هغهٔ نه یـې خپل مال وغوښتو، پهٔ دې باندې ابو جهل بد بخته هٔغه یتیم له دیـکې ورکړې او وه یـې ویستلو.

پهٔ دې باندې د قریشو نورو سردارانو هٔغه یتیم ته ووئیل: تهٔ د مُحَمَّدِ (مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) خوا له لاړ شهٔ! هغهٔ به ستا مدد وکړي. د قریشو سردارانو خو دا خبره د خندا پهٔ توګه کړې وه، د هغوئي مقصد وو چې دا یتیم ماشوم به د مُحَمَّد (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) نه مدد وغواړي نو هغهٔ به د دهٔ مدد ونـکړے شي. خو هغوئي ته څهٔ پته وه...!! چې هغهٔ د رَبِّ کائنات محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے، هغهٔ چې پهٔ یو بانه هُم اِشاره وکړي نو دُنیا د یو ځائے نه بل ځائے ته کیدے شي.

غم و رَنۡج و اَلَمۡ اور سب بلاؤں کا مداوا ہو
اگر وہ گیسوؤں والا مرا دِلدار ہو جائے
اشارہ پائے تو ڈوبا ہوا سورج برآمد ہو
اٹھے انگلی تو مہ دو بلکہ دو دو چار ہو جائے(1)

د چا پهٔ اِشاره باندې چې پریوتے نمر واپس راځي،چې ګوته پورته کړي نو سپوږمې دوه ټوټې شي نو آیا د هغهٔ پهٔ غوښتلو به د یو یتیم ماشوم غم نهٔ لرې کیږي خو غیر مسلمو ته د **اللّٰہ پاک** د حبیب مقام څهٔ معلوم دے...!!

---

1...سامانِ بخشش، صفحه:174172 ملتقطًا۔

خیر! هٰغه یتیم ماشوم د دواړو جهانو د تاجدار، مکي مَدَني سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر شو او خپل فریاد یې وکړو.

خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هٰغه ماشوم د ځان سره کړو او فوراً یې د ابو جهل کور ته تشریف یوړلو. د قریشو د سردارانو خو دا خیال وو چې ابو جهل به ورنیغ شي، مَعَاذَ اللّٰه! د اللّٰه پاک د رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره به د ګستاخۍ رویه اختیار کړي خو دا څهٔ وشو...!! ابو جهل چې څنګه سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ولیدلو نو په ادب سره یې هغوئي ته مرحبا ووئیله او د هغوئي هر کلے یې وکړو او فوراً یې د یتیم مال راوړو او هغهٔ ته یې حواله کړو.

دا یې چې ولیدل نو د قریشو خلق ډیر حیران پاتې شول، چې کله هغوئي د ابو جهل نه په دې باره کښې پوښتنه وکړه نو هغهٔ ووئیل: په خُدائے مې دې قَسم وي چې ما د مُحَمَّد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ښي او ګڅ طرف ته یوه نیزه ولیدله، زهٔ ویریدم چې که ما د دوئي خبره اونه منله نو دا نیزه به ما وشلوي. (1)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

سُبْحٰنَ اللّٰه! دا دے د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د یتیمانانو سره د ښیګړې انداز...!! اللّٰه پاک دې زمونږه هم توفیق نصیب کړي! کاش چې مونږه هم د یتیمانانو، غریبانو، بے وَسو مدد کوونکي جوړ شو.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د یتیم او د مسکین د پالنې فضائل

**(1)**: د اللّٰه پاک خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: په مسلمانانو

1...اَلسِّیرةُ الْحَلَبِیَّة، باب عرض قریش علیه...الخ، جلد:1، صفحه:445۔

کنبې بهترين کور هٔغه دے پهٔ کوم کنبې چې يتيم وي او د هغهٔ سره ښه سلوک کولے شي او پهٔ مسلمانانو کنبې بد ترين کور هٔغه دے پهٔ کوم کنبې چې يتيم وي او د هغهٔ سره بدسلوک کولے شي. [1] **(2)**: رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مسکينان خلق به د مالدارو نه 40 کاله مخکښې جنَّت ته ځي، اے عائشه رَضِیَ اللہُ عَنْہا! مسکين خالي مهٔ ليږه اګر که د کجورې ټکړه هُم وي هغهٔ له يـې ورکړه. اے عائشه رَضِیَ اللہُ عَنْہا! د مسکينانو سره محبت کوه، هغوئي ځان سره نزدې ساته چې **الله پاک** د قيامت پهٔ ورځ تا رانزدې کړي. [2] **(3)**: د **الله پاک** خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: کوم ګَس چې د يتيم پهٔ سر باندې صرف د **الله پاک** د رضا د پاره لاس راکاږي نو چې پهٔ څومره ويښتو د هغهٔ لاس تير شي د هر ويښته پهٔ بدل کنبې د هغهٔ د پاره نيکئ دي او کوم ګَس چې پهٔ يتيمه جينئ يا يتيم هلک باندې اِحسان وکړي زهٔ او هغهٔ به پهٔ جنَّت کنبې (دوه ګوتې يـې يو ځائے کړې او اوئې فرمائيل چې) داسې به يُو. [3]

د دې حديثِ پاک لاندې د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: کوم ګَس چې د خپل عزيز يا نا اشنا يتيم پهٔ سر باندې د محبت او شفقت لاس راکاږي او دا محبت صرف د **الله** او رسول (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د رضا د پاره وي نو د هر ويښته پهٔ بدل به هغهٔ ته نيکې ميلاؤيږي. دا ثواب خو صرف د لاس راښکلو دے څوک چې پهٔ هغهٔ باندې مال خرچ کړي، د هغهٔ خدمت وکړي، هغهٔ له تعليم او تربيت ورکړي سوچ وکړئ چې د هغهٔ ثواب به څومره وي. [4]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

1…ابنِ ماجه، کتاب الادب، باب حق اليتيم، صفحه:593، حديث:3679۔

2…ترمذی، کتاب الزہد، باب ما جاء ان فقراء المهاجرين...الخ، صفحه:562، حديث:2352۔

3…مسندِ امام احمد، جلد:9، صفحه:204، حديث:22922۔

4…مرآة المناجيح، جلد:6، صفحه:562۔

## صِله رحمي کوئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا صفت هم بیان شو چې هغوئي صِله رحمی کولو والا دے.

د صِله معنٰې ده: ښیګړه او اِحسان کول. د رِحم نه مُراد: خپلولي ده. داسې د صِله رحمی معنیٰ شوه: خپلولي پالل، یعنې د خپلوانو سره نیکي او ښیګړه کول. الله پاک په قرآنِ کریم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ اٰتِ ذَا الْقُرْبٰى حَقَّهٗ<br>(پارہ:15، سورۂ بنی اسرائیل:26) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او خپلوانو ته د هغوئي حق ورکړئ. |

یعنې د خپلوانو سره صِله رحمي کوئ! د هغوئي سره محبت او تعلق ساتئ! د موقعې په مناسبت سره د هغوئي مدد کوئ! او د هغوئي سره ښه تعلقات ساتئ...!! (خزائن)

## فوراً یــې د ترور سره صلح وکړه

حضرت ابو هریره رَضِیَ اللہُ عَنْہُ یو ځل د رسولِ عربي، مکي مَدَني صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حدیثونه مبارک بیانول، په دې کښې یــې وفرمائیل: هر خپلولی ماتوونکے دې زمونږ د محفل نه لاړ شي. یو زلمے پاڅیدو او د خپلې [د پلار د طرفه د] ترور کره لاړو د کومې سره چې د هغهٔ د ډیرو کلونو نه ورانه وه، چې کله دواړه د یو بل نه راضي شول نو هٔغه زلمي ته ترور ووئیل: تهٔ لاړ شهٔ او د دې د سبب پوښتنه وکړه چې اخر داسې ولې وشول؟ (یعنې د ابو هریره رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د اعلان څهٔ حکمت دے؟) زلمے حاضر شو او چې کله یــې پوښتنه وکړه نو حضرت ابو هریره رَضِیَ اللہُ عَنْہُ وفرمائیل چې ما د دواړو جهانو د آقا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه دا اوریدلي دي: **په کوم قوم کښې چې خپلولی ماتولو والا**

**وي، پۀ هُغه قوم باندې د الله پاک رحمت نۀ نازلیږي.** (1)

څوک چې پۀ وړه وړه خبره باندې د خپلو خوئیندو، لوڼو، ترورګانو، ماما ګانو، ترونو، وریرونو، خوریونو وغیره سره تعلق پرېږدي، د هُغه خلقو د پاره پۀ دې حدیثِ پاک کښې ډیرعبرت دے. پۀ دې باندې هم غور وکړئ چې مخکښې به مسلمانان د **الله پاک** نه خومره ویریدل! خوش قِسمته زلمے د **الله پاک** د ویرې له وجهې فوراً د خپلې ترور خوا ته حاضر شو او روغه یې وکړه. ټولو له پکار دي چې غور وکړي چې پۀ خاندان کښې یې د چا چا سره نۀ لګي چې کله ورته معلومه شي نو بیا که چرې شرعي عذر نۀ وي نو فوراً دې د ناراضه خپلوانو سره روغه جوړه وکړي. که راتیټیدل هم وي نو بے شکه دې د **الله پاک** د رضا د پاره راټیټ شي، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! سر بلندي به بیامومي.

## د صِله رحمی 10 فائدې

حضرت فقیه ابو لیث سمر قندي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: د صِلَۀ رحمی کولو 10 فائدې دي: **(1)**: د الله پاک رضا حاصلیږي **(2)**: د خلقو د خوشحالۍ سبب دے **(3)**: فرښتے پرې خوشحالیږي **(4)**: د مسلمانو د طرف نه د هُغه کَس تعریف کیږي **(5)**: شیطان ته پۀ دې باندې تکلیف میلاؤیږي **(6)**: عمر ورسره زیاتیږي **(7)**: پۀ رِزق کښې برکت راځي **(8)**: وفات شوي مسلمانان پلار نیکونه خوشحالیږي **(9)**: پۀ خپل مینځ کښې محبت زیاتیږي **(10)**: د وفات نه پس د هغۀ پۀ ثواب کښې اضافه کیږي، ځکه چې خلق د هغۀ پۀ حق کښې د خیر دعاګانې کوي. (2)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

**الله پاک** دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي.

---

1...الزواجر، جلد:2، صفحه:137136۔

2...تَنبیهُ الغافِلین، باب صلة الرحم، صفحه:74۔

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

## د اِجتماعي اِعتكاف ترغيب

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوت اسلامي پهٔ ټوله دنيا کښې د نيکۍ دعوت عام کولو کښې مصروف دے، د رَمَضَانُ المُبَارَک د فيضان موندلو، د ګناهونو نه د بچ کيدو او د نيک نـمونځ ګزاره جوړيدو د پاره د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اِسلامي ديني ماحول سره خپل تړون نور هُم مضبوط کړئ۔ اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي د نګرانۍ لاندې پهٔ ټوله دنيا کښې پهٔ زرګونو ځايونو کښې د آخرئ عشرې اجتماعي اِعتكاف هم کيږي، تاسو هم کوشش وکړئ او د اِعتكاف سعادت حاصل کړئ! اِنْ شَآءَ اللہُ الْکَرِیم! پهٔ رَمَـضَانُ الـمُبَارَک شريف کښې به د ګناهونو نه د بچ کيدو، د نيکو کولو، د نفل عبادتونو شوق زياتيدو سره سره ډير عِلمِ دِين هم زده کړئ۔

## د عطياتو ترغيب

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! ستاسو خپل دِيني تحريک دعوتِ اِسلامي دا وخت د اتياؤ [80] نه پهٔ زياتو شعبو کښې د دِين خدمت کوي ❀ د کنزُ الـمدارس بورډ پهٔ نوم د دعوتِ اِسلامي خپل تعلمي بورډ دے ❀ تقريباً د 16500 نه زيات جامعات او مدارسُ الـمدينه د هلکانو او جينکو (Boys & Girls) د پاره قائم دي، پهٔ کومو کښې چې د حفظ او ناظرې، عالِم کورس (درسِ نظامي)، مختلف تَخَصُّصَات (Specialization)، فرض علوم کورسز کولے شي ❀ د جامعات او مدارسُ الـمدينه (بوائز اينډ ګرلز) د طالبِ علمانو شميره څه کم يا زياته 5 لاکهه 30 زره ده. ❀ او په ټوله دنيا کښې د مسلمانانو د خير ښيګړې د پاره قائمې شعبې ايف جي آر ايف (FGRF) په ذريعه د غمژنو مسلمانانو خدمت هُم کيږي.

**تاسو هم د دين د خِدمت پهٔ دې کار کښې خپله حصه شامِله کړئ! خپل عطيات دعوتِ اِسلامي**

له ورکړئ، ستاسو چنده په هر قِسمه جائز، ديني، اِصلاحي، فلاحي، روحاني او د خير ښيګړې په کارونو کښې لګيدے شی د پاره د دې چې زياتيدونکې خرچې پوره کړے شي۔

دعوتِ اسلامی کی قیّوم، سارے جہاں میں مچ جائے دُھوم
اس پہ فدا ہو بچہ بچہ یااللہ! مری جھولی بھر دے

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: علاقائي دوره

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د نيک نـمونځ ګزاره جوړيدو، په سُنَّتو باندې د عمل کولو د جذبې موندلو، د نيکو نه د ډک ژوند تيرولو د پاره د دعوتِ اِسلامي د دِيني ماحول سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ، په 12 ديني کارونو کښې عملي طور شرکت وکړئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د دين او دنيا بے شميره خيرونه به مو نصيب شي. په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار دے: علاقائي دوره.

❁ **د حديثِ پاک خلاصه ده:** په کومه ښپه باندې چې د **الله پاک** په لاره کښې دوړه پريوځي، هغې ته به د دوزخ وور نۀ ورنزدې کيږي [1] ❁ د نيکۍ د دعوت ورکولو، د ګناه نه د منع کولو د پاره د کور نه وَتل هم د **الله پاک** په لاره کښې وَتل دي ❁ زمونږه خوږ آقا او مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د نيکۍ دعوت ورکولو د پاره بازارونو ته تشريف وړلو ❁ مختلفو قبائلو ته به يې د تللو سره هم د نيکۍ دعوت ورکولو. ❁ **د دعوتِ اسلامي والا عاشقانِ رسول** هم د دې ښکلې ادا د ادا کولو کوشش کوي ❁ کور کور، دُکان دُکان ته د تللو سره د نيکۍ دعوت ورکولے شي ❁ خلقو ته جومات ته د راتللو دعوت ورکولے شي ❁ د نـمونځونو ترغيب ورکولے شي ❁ مونږ دې ته علاقائي دوره وايُـو ❁ **تاسو هم د عاشقانِ رسول سره په شريکه علاقائي دوره کوئ!** اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم!

1...مسند امام احمد، جلد:6، صفحه:507، حديث:16356۔

❁ د انبیائے کرامو عَلَیهِمُ السَّلام پهٔ سُنت باندې به د عمل کولو سعادت درنصیب کیږي ❁ د نیکۍ د دعوت عام کولو ثواب به میلاویږي ❁ د حدیثِ پاک مطابق د نیکۍ لاره ښودلو والا، د نیکۍ کولو والا پهٔ شان دے [1] ❁ که زمونږ د نیکۍ پهٔ دعوت یو کَس هم نیک نـمونځ ګزاره جوړ شو نو یقین وکړئ چې مزې به مو شي. راځئ چې د ترغیب د پاره یو مَدَني سپرلے واورو:

## د جومات طرف ته روان شو

د عاشقانِ رسول یوه مَدَني قافله د دریو ورځو د پاره د سندهـ ټنډو آدم ښار ته ورسیدله، پهٔ کومه کښې چې د اوریدو او وئیلو د صلاحیت نه **محرومه** اِسلامي وروڼه هم شامل وو. د مازدیګر نه نـمونځ نه پس د مَدَني قافلے د عاشقانِ رسول سره پهٔ شریکه د **علاقائی دوره برائے نیکی** دعوت ورکولو د پاره د جومات سره نزدې د کرکټ یو میدان ته لاړل، د مَدَني قافلې یو عمومي اِسلامي ورور هلته کښې موجودو زلمو ته ووئیل چې زمونږ سره د اوریدو او وئیلو د صلاحیت نه **محرومه** اِسلامي وروڼه هم دي، دوئي به تاسو ته پهٔ اِشارو کښې د نیکۍ دعوت درکوي. بیا ړندو او چاړاګانو اِسلامي وروڼو پهٔ اِشارو د نیکۍ دعوت وړاندې کړو او هلته یـې موجودو ګسانو ته جومات ته د تللو ووئیل. عمومي اِسلامي ورور هم داسې ترغیب ورکړو چې دا اِسلامي وروڼه د وئیلو او اوریدو د قوت نه د **محرومه** کیدو باوجود د نیکۍ د دعوت د پاره راوتلي دي، **اللّٰه پاک** مونږ ته دا نعمتونه راعطا کړي دي که چرې مونږ د دوئي پهٔ دعوت باندې جومات ته لاړ شو نو اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیم! د دوئي زړونه به خوشحاله شي. دا یـې چې واوریدل نو هٔغه کرکټ کوونکو زلمو سرونه ټیټ کړل او د مبلغ سره د جومات طرف ته روان شول.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

1... ترمذی، ابواب العلم، باب ماجاء الدّال...الخ، صفحه:628، حدیث:2670۔

# يو څو ضروري اِعلانات

✿ د هر خيالي پۀ ورځ امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه پۀ **مَدَني چينل** باندې **لائيو هفته واره مَدَني مذاکره** کوي، د راتلونکې هفتې پۀ ورځ به هم پۀ مَدَني چينل باندې د شپې (د تراويح د نـمونځ نه پس) اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! هفته واره مَدَني مذاکره کيږي، (پۀ **رَمَـضَانُ الـمُبَارَک شريف** کښې به روزانه د مازديګر د نـمونځ نه پس او د تراويح د نـمونځ نه پس مسلسل د مَدَني مذاکرو سلسله کيږي) پۀ کومو کښې چې به شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول پۀ دې مَدَني مذاکره کښې ځپله هم شرکت وکړئ او نورو له دې هم دعوت ورکړئ

✿ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د يوې **دِيني رسالې** د لوستلو اعلان کوي، پۀ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به **د خوږو خيزونو په باره کښې 15 سوال جواب** رسالې اعلان کولے شي- دا رساله ځپله هم ولولئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر ***(Share)*** کړي!

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بيان پۀ اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِیْ فَقَدْ اَحَبَّنِیْ وَمَنْ اَحَبَّنِیْ کَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّة چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغۀ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغۀ به پۀ جنّت کښې زما سره وي۔ (1)

---

1...تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د وعدې پابندي سُنَّت ده

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **2 فرامين مبارک دي:** **(1)**: څوک چې وعده نهٔ پوره کوي، د هغهٔ هيڅ ايمان نشته. [1] **(2)**: کوم مسلمان چې د خپل ورور سره وعده خلافي وکړي پهٔ هغهٔ باندې د **الله پاک** او د فرښتو او د ټولو انسانانو لعنت دے. [2]

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** وعده پوره کول سُنَّتِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بلکې سُنَّتِ انبيا دي ❁ زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به پهٔ خپله وعده کلک ولاړ وو او ❁ وعده ماتول به يې نهٔ خوښول ❁ د نبوت د اعلان نه مخکښې يو ځل يو کَس نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته عرض وکړو چې: تاسو ودرېږئ! زهٔ دا دے اوس راځم، هٰغه کَس لاړو خو واپس راتلل ترينه هير شول، 3 ورځې پس هغهٔ ته بيا ورياد شول، چې کله هغهٔ هٰغه ځائے ته راورسيدو نو حيران پاتې شو چې خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د 3 ورځو تيريدو باوجود هم پهٔ هغه ځائے کښې تشريف فرما وو او مَاشَآءَ الله! شفقت او رَحمت او ښه اخلاقو ته يې وګورئ! چې رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هٰغه کَس اونه رټلو او نهٔ پهٔ جلال کښې راغلو، بس دومره يې وفرمائيل: اے سړيه! تا زهٔ پهٔ مشقت کښې واچولم. [3] **الله پاک** دې مونږ هم پهٔ سُنّتِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې عمل کوونکي او وعده پوره کوونکي جوړ کړي. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه

---

1...مصنف اِبْنِ اَبِی شیبه، کتاب: الایمان، جلد: 7 صفحه: 223۔

2...بخاری، کتاب: جِزْیه، صفحه: 815، حدیث: 3179۔

3...اَبُو داؤد، کتاب ادب، باب فی العدة، صفحه: 781، حدیث: 4996۔

نمبر 16 او د شیخ طریقت، امیر اهلسنت **علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي** دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو یوه بهترینه ذریعه د دعوتِ اسلامي پۀ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

سنتیں سیکھنے تین دِن کے لئے | ہر مہینے چلیں، قافلے میں چلو

**الله پاک** دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګاني

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [یعني د جُمعے د شپې] دُرُود

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِیِّ الْاُمِّیِّ الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاهِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائیلي دي چې خوك هره شَبِ جُمعه (یعني د جُمُعے او زیارت مینځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شریف پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدینه صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبْر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

1...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰی اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سیِّدُنا انَس رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روایت دے چې تاجدارِمدینه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښیناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودریدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اویا دروازے:

صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اویا دروازے بیرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشریف ثواب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللہِ صَلَاۃً دَآئِمَۃً بِدَوَامِ مُلْكِ اللہِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي[2] راځئ چې په شریکه ئې اُووائیو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَ تَرْضٰی لَهٗ

یوه ورځ یو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّیقِ اکبر

1...القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ الثانیۃ والخمسون، ص۱۴۹

رَضِیَ اللہُ عَنْہُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِیَ اللہُ عَنْہُم حيران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيكئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللہُ عَنْہُمَا نه رِوايت دے چې سركارِ مدينه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونكي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيكئ ليكي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لكه شبِ قدر ئې چې حاصل كړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لكه هغه چې شبِ

1...القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵
2...القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷
3...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

قَدر حاصل کړو.[1] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

1...القول البدیع، الباب الاول، ص ۱۲۵